SHARIAT
شريعت
اوونيزه
په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان
پنځم کال ۷۸ گڼه پرله پسې(۳٦٥)سه شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د رجب المرجب (۲۷)
د۱۳۷۹هـ ش کال د لړم دمياشتي(۳)د۲۰۰۰ميلادي کال د اکتوبر (۲٤)

از طرف بورد انسجام سرمايه گذاري خصوصي :

چگونگي ايجاد ۲۴ پروژه توليدي و خدماتي مورد تاييد قرارگرفت

کابل - باختر :

چگونگي ايجاد ۲٤ پروژه توليدي و خدماتي مورد تاييد بورد انسجام سرمايه گذاري خصوصي قرار گرفت .

جلسه بورد انسجام سرمايه گذاري خصوصي ديروز تحت رياست محترم مفتي حبيب الرحمن حنفي معاون اداره مرکزي سرمايه گذاري خصوصي به شمول اکثريت اعضاي دايمي آن دايرگرديد.

در اين جلسه بعد از غور و بحث روي چگونگي کار و فعاليت فابريکات خصوصي ايجاد ۲٤ پروژه توليدي و خدماتي از قبيل خدمات مخابراتي ، توليد روغن و صابون، قالين بافي، مشروبات غير الکولي، مصنوعات پلاستيکي، حجاري و ظروف المونيمي به سرمايه ابتدايي مبلغ پنجاه و هشت مليارد و هفت صدو بيست و يك مليون افغاني و سرمايه انتهايي مبلغ هشتاد و سه مليارد و نزده مليون افغاني مورد تاييد بورد انسجام قرار گرفت .

يك منبع مسوول گفت: در صورت فعاليت اين پرژه ها براي ۹۷۸ نفر از هموطنان ما زمينه کار و فعاليت آماده ميگردد.

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) دير نژدي دی تقوا(پرهيزگاري) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذاريد.

د بهرنيو چارو وزارت محترم معين له باختر آژانس سره په مرکه کې :

له ازبکستان ايران او ترکمنستان سره په پوله هيڅ راز ستونزې نلرو

چين هم په سيمه او نړۍ کې د يوه ځواک په توگه نه غواړي له افغانستان سره خرابې اړيکې ولري

د حيرتانو د بندر بيا پرانيستنه دواړو گاونډيو هيوادو ته نښه تجارتي ارزښت لري

د تجارتي اړيکو بيا ټينگښت په سيمه کې د سولې په راوستلو کې بارز رول لوبولی شي

کابل - باختر :

د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت معين محترم ملا عبدالرحمن زاهد د باختر اطلاعاتي آژانس له خبريال سره د خپلې مرکې په دويمه برخه کې د ترکمنستان ايران او د چين له هيوادونو سره د افغانستان د اسلامي امارت د نږاو دوستانه اړيکو ته اشاره وکړه او وويل: د ايران له هيواد سره زمونږ اړيکې مخ په ښه والي دي او د ايران هيواد په ډيرو سختو شرايطو او

٤ مخ

سنگ تهداب مدرسه امام غزالي گذاشته شد

پروان - باختر :

سنگ تهداب مدرسه امام غزالي «رح» پريروز در منطقه سر دره ولسوالي سياگرد غوربند ولايت پروان طي محفلي گذاشته شد.

دراين محفل که به اشتراك ملا امين الله اخند مسوول نظامي غوربند، محترم محمد شرين مسوول قطعه غوربند و محترم عبدالغفور ولسوال سياگرد و عده يي از علما و موسفيدان آن ولسوالي تدوير

ص ٤

به اساس موافقه وزارت تحصيلات عالي و پوهنتون لوماليندا :

کار باز سازي عرصه هاي مسلکي و عمراني طب کابل به شدت جريان دارد

کابل - باختر :

به اساس موافقتنامه ميان وزارت تحصيلات عالي و پوهنتون لوماليندای امريکا کار باز سازي عرصه هاي علمي و مسلکي و عمراني طب کابل به شدت جريان دارد .

مطابق موافقتنامه همکاري ميان وزارت تحصيلات عالي ۱.۱.۱ و

ص ٤

شوراي عالي ستره محکمه تدوير يافت

شوراي عالي ستره محکمه تحت رياست محترم مولوي نور محمد «ثاقب» قاضي القضات و رئيس ستره محکمه ۱.۱.۱ ديروز در مقر ستره محکمه داير گرديد.

ابتدا آيات چند از کلام الله مجيد قرائت گرديد.

بعداً محترم قاضي القضات و رئيس ستره محکمه روي

٤ مخ

د غور ولايت د وچکالي ځپلو په هکله غونډه وشوه

غور - باختر :

د غور ولايت له وچکالي ځپلو خلکو سره د زيانو مرستو د جلبولو په مقصد پرون د غير حکومتي خيريه موسسو د استازو په گډون د چخچران په ښار کې يوه غونډه جوړه شوه .

ص ٤

په مزار شريف کې :

د کورنيو چارو روزنيز سيمينار پرانيستل شو

مزار شريف - باختر :

د کورنيو چارو وزارت د اړوندو ارگانونو د قوانينو د بيانولو روزنيز سيمينار پرون د مزار شريف په ښار کې دوام درلود.

د سيمينار په ننني

٤ مخ

تدوير جلسه امور نظامي و امنيتي در کندهار

جلسه مسوولين نظامي و امنيتي ديروز تحت رياست محترم ملا عبدالرزاق اخند وزيرامور داخله درشهر کندهار داير گرديد .

خبرنگارآژانس اطلاعاتي باختر از شهر کندهار گزارش داد .

در جلسه محترم وزير امور داخله گزارش اجراات و فعاليت هاي مسوولين ارگانها امنيتي نظامي را استماع نموده جهت بهبود هر چه بيشتر امور به مسوولين مربوط رهنمود ها و هدايات مشخص دادند. هيځان در جلسه روي يك سلسله مسايل امنيتي و نظامي نيز بحث بعمل آمد.

به منظور خدمات بيشتر پستي در کشور اخيراً:

قرار داد سرويس پست عاجل بين وزارت مخابرات و شرکت خصوصي پست سريع باختر عقد گرديد

شريعت : غرض فراهم آوري تسهيلات بيشتر و خدمات سريعتر پستي در کشور اخيراً قرار داد سرويس پست عاجل ميان وزارت مخابرات و شرکت خصوصي و غير انحصاري پست سريع باختر

ص ٤

زمين لرزه شديدي شهر تهران را تکان داد

به گزارش آژانس خبري ارنا زمين لرزه يي به شدت پنج اعشاريه سه درجه رياکتر ديروز يکي از شهر هاي ايران واقع در جنوب ولايت خراسان آنکشور را تکان داد .

اداره زلزله شناسي پوهنتون تهران زمان وقوع اين زلزله را ساعت ده و بيست و چهار دقيقه بامداد ديروز به وقت محلي نشان داد .

در باره تلفات و خسارات ناشي از اين زلزله تاکنون گزارش داده نشده است .

په پاکستان کې

يو سخته ترافيکي پيښه وشوه

وحدت ورځپاڼه- شريعت :

د پاکستان د پنجاب ايالت په جنگ ښار کې د يوې سختې ترافيکي پيښې له امله څلوېښت کسان مړه او ۷٦ کسان ټپيان شوي دي .

د تفصيلاتو سره سم

٤ مخ

د تخار په ولايت کې :

د عالمانو شورا جوړه شوه

تالقان- باختر :

د تالقانو ښار د بيلابيلو ناحيو د عالمانو او روحانيونو شورا پرون جوړه شوه.

په دې شورا کې چې د تخار ولايت د کفيل محترم مولوي محمد رحيم په مشرۍ او د امنيتي حوزو د چارواکو په گډون جوړه شوه د دغه ولايت د دوتنو علماي کرامو محترم ملا رباني. او

٤ مخ

از طرف قوماندانی امنيه ولايت بغلان:

۱۹۰۰ کيلو گرام چرس حريق گرديد

بغلان - باختر :

يك هزار و نه صد کيلو گرام چرس ديروز توسط موظفين قوماندانی امنيه ولايت بغلان کشف و حريق گرديد.

چرس متذکره که بداخل

ص ٤

داروپايي ټولنې او چين خبرې پرون پيل شوې

د DPI د خبري آژانس د خبر له مخې د اروپا د ټولنې د لوړ رتبه مامورينو او د چين د صدراعظم په گډون د اروپا د ټولنې او د چين د مشرانو د خبرو دريم پړاو پرون په پيکنگ کې پيل شو .

٤ مخ

امريکا د ايران کنگل شوې شتمنې په خلکو ويشي

د تهران راډيو د وينا له مخې د امريکا د متحده ايالاتو دولت د ايران هغه شتمنۍ چې په هغه هيواد کې ضبطې شويدې د په اصلاح تروريستي بريدونو

٤ مخ

ديوگوسلاويا دواړو ډلو د حکومت په سر موافقه وکړه

د يوگوسلاويا د صربستان ايالت پارلمان پرون په دغه ايالت کې د يو ائتلافي حکومت د جوړولو په خاطر د هلو ځلو نوې پړاو پيل کړيدی.

پخوا د يوگوسلاويا د پخواني جمهور رئيس سلوبودان ميلو سوويچ مخالفين او دده پلويان په حکومت کې د يوې محدودې ونډې اخيستنې په باب موافقې ته رسيدلي و .

د يوگوسلاويا نوي جمهور رئيس واسلاو هيله ځرگنده کړه چې د صربستان او مونتي نگرو جمهوريتونه کولی شي د يوې اووني په اوږدو کې د يوگوسلاويا فدرالي حکومت جوړ کړي.

٤ مخ

منظره زيبايي از قصر «ستوري» وزارت امور خارجه امارت اسلامي افغانستان در کابل
عکاسي يوسف

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د فلسطينيانو غلبيل ټټرونه او د عرب ليگ بې اغيزې غونډې

په قدس کې لا هماغسې وينې بهيږي، د نيمې پيړۍ په تيريدو سره لا بيا هم يوې غاړې ته د صهيونيستي لښکرو ټوپونه او بلې غاړې ته د تش لاسو ايماندارو مجاهدينو له ارمانه ډک ټټرونه دي د زرگونو فلسطينيانو د شهادت نه وروسته لا اوس هم د کانو او ډبرو ځواب په بمونو او ټوپونو ورکول کيږي ، دفلسطين په هر کلي او ښارگوټي کې لا تر اوسه يهودان هم ددې مظلوم ولس په وژلو، کړولو او شړلو نه دي ماړه شوي او د اسلامي نړۍ

۲ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ٦۲۸۵۹
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتی مطبعه

د سرمقالې پاڼې برخه

سپیڅلی مقامات لا هم د یرغلګر پوځ د څخی لاندی دی خو زمونږ اسلامی نړی له خواری برخی هغه مشران چی له یوی خوا هر کال له سترو کفری هیوادونو څخه د زرګونو ملیاردو ډالرو وسلی اخلی خو له بلی خوا د پردی تیری په مقابل کی هیڅکله هم د یو غوڅ اقدام زړه نه لری او تل د یو دغسی خونړی یرغل مخه په غونډو او جلسو نیسی او ځینی بی ننګه خو لا د جلسو په خبرو کی هم له خولی سره ډیر احتیاط کوی. په مصر کی د عرب لیګ وروستی سر مشریزه د عرب مشرانو د تګلاری کټ مټ همدغه شان یوه بیلګه وه .د صهیونیستانو د اوسنی خونړی یرغل دا څلورمه اونی ده چی هره ورځ په لس ګونو تش لاسی فلسطینی مسلمانان پکی شهیدان او ټپیان کیږی خو د اسلامی او عربی هیوادو چارواکی لا بیا هم له خپل لوری د تشدد او تاو تریخوالی غندنه کوی او ځانونه د سوله ایز حل پلویان بولی.

له بده مرغه لا تر اوسه هم دا سوچ نه کوی چی دا دی لښکر مو په کورو راوخوت،بیت المقدس یی ونیو، د لبنان، سوریی، مصر او اردن څخه یی ډیری سیمی لاندی کړی او اوس چی په فلسطین کی څوک مسلمان وینی په شهادت یی رسوی، ښه ! نو فلسطینیان خوبی وسه او تش لاسی دی مګر دا نور چی ښی پریمانه پیسی او وسلی لری ولی دومره بی ننګی کوی ! که فرضاً صهیونیستان د فلسطینیانو له غمه خلاص شی نو ایا په سوریه، مصر او اردن به څه سر په وکړی؟ نه پوهیږو دوی به له خپلو عصری وسلو او منظمو لښکرو څه وخت کار اخلی او دا به یی کومی ښی او بدی ته ساتلی وی .

په هر صورت لکه چی د اسلامی نړی ډیری حلقی همدا ناری وهی چی یوازنی حل جهاد دی او بس. رښتیا هم چی د څلویښتو کلو سیاست او دیپلوماسی نه هیڅ هم جوړنه شول ځکه د بیت المقدس موضوع خو ګردی اسلامی نړی ته ډیره ارزښتناکه او مهمه وه او له همدی کبله د اسلامی کنفرانس او عرب لیګ په لس ګونو غونډی وشوی خو هیڅ رنګ یی دوا نه کړ او د اسرائیلو یرغل لا هماغسی روان دی او دا دی د عرب لیګ وروستی غونډه هم جوړه شوه چی یهودو لا نور هم وریوری وخندل او پری زیاته یی کړه چی باید د اعلامیی توری یی توند او ګواښنده نه وای هماغه و چی صهیونی پوځ نور هم ګرندی او پیاوړی شو او د فلسطینیانو مرګ ژوبلی ته یی لا ښی متی راونغښتی بیا هم د عرب لیګ لویه غونډه خلاصه شوه او مشران خپلو دربارو ته ولاړل خو له یهودو او امریکی سره د تیلو او وسلو سوداګری لا هماغسی توده ده ګویا د حال په ژبه وایی چی که فلسطینیان مری خو مری به ! مونږ ولی خپل تجارت خراب کړو .

د افغانستان میړنی او با تور ولس چی له یرغلګرو سره د جهاد او مقابلی ښه تجربه لری، د عرب لیګ په دغسی بی اغیزو جلسو خپله ژوره خواشینی څرګندوی ، دا کار د اسلامی مقدساتو او فلسطینی مسلمان ملت سره لویه جفا ګنی او په کلکه غوښتنه کوی چی باید صهیونیزم ته غاښ ماتوونکی عملی ځواب ورکړل شی یهود باید د توری په زور دی ته اړ کړی شی چی له بیت المقدس نه خپل پوځونه وباسی او د فلسطینیانو د روا حقوقو درناوی وکړی په دی کی هیڅ شک نشته چی که د سیمی اسلامی هیوادونه په دی هکله یو غوڅ دریغ غوره کړی، ډیر ژر به د مسلمانانو ارمانونه تر سره او یهودیان به په خپل ځای کینی .

یوه ګټوره اقتصادي مشوره

فاروق

زمونږ ګران هیواد چی د تاریخ په اوږدو کی ډیر ځله د یرغل ګرو له خوا ځوریدلی او کړیدلی د ودانی او پرمختګ لپاره یی ډیر لږ وخت موندلی نو له همدی کبله د نفوس زیاتره برخه په کلیو او بانډو کی اوسی او د ښارونو په جوړولو او پراختیا کی چندان څه کار نه دی شوی. په دی لړ کی د روسانو دتیری نه را په دی خوا چی دا دی دوه ویشت کاله تیر شوکیږی بیا هم د پرمختګ کارونه هماغسی ډب شوی او اوس - اوس چی تر یوه حده کراری او امنیت راغلی، په بیړنی ډول په هیواد کی د ښارونو پراختیا ته سخته اړتیا ده ځکه چی خلکو په یو ځل کارو بار ، ودانی او د کورو جوړولو ته مخه کړی ده نو له همدی کبله باید اړوند مسؤلین خپل پروګرامونه د ولس ددغی غوښتنی سره سم جوړ کړی د ښارونو او ښارګوټو پراختیا د حکومت له وسی وتلی خبره هم نه ده او نه یی څه پیسی ورباندی لګیږی ، یوازی د پلان او نقشی جوړول غواړی او کله چی یوه سیمه ددی کار لپاره وټاکل شی نو بیا خو که له یو ی خوا د خلکو اړتیا پوره کیږی، کوروونه، دوکانونه او مارکیټونه جوړیږی ، نو له بلی خوا د وچ ډاګ او شاړی ځمکی په مقابل کی چی مسولین یی چاته په منظم ډول ورکوی، یوه زیاته اندازه پیسی هم د حکومت لاس ته ورځی د مثال په ډول که یو ښار ته څیرمه کومه شاړه ځمکه چی سلطانی وی له نقشی سره سم د کورونو، مارکیټونو ، دوکانونواو کارخانو لپاره په زرو کسانو وویشل شی او د هر یوه نه یو ملیون افغانی واخیستل شی نو بی له ځنډه به زر میلیونه افغانی حکومت ته ورسیږی او دا په داسی حال کی چی د حکومت به هیڅ لګښت هم نه وی شوی له نیکه مرغه په هیواد کی د زیاترو ولایاتو او ولسوالیو مرکزونه دا چانس او د پراختیا ښه امکانات لری او که چیری بیا د سیمی دخلکو له خوا د نوموړی ځمکی په هکله څه ستونزی راولاړیږی نو کیدای شی څه مناسب او حکیمانه چلند غوره شی. د پراختیا او نوښت ددغه پروګرام په بریالیتوب کی هیڅ شک نشته او په تیرو دوه دری کلو کی داسی ډیر مثالونه شته چی خورا ښه نتایج یی ورکړی دی په دی اړه د نیمروز ولایت د مرکز انتقال د غور غوری ډاګ ته یو ژوندی او ثابت مثال دی چی د څه کم دوو کلو په موده کی په بشپړ ډول ودان شو د خلکو د کورونو او دوکانونو اړتیا ، د حکومتی ودانیو جوړیدل او له دغی لاری د حکومت خزانی ته یوه زیاته اندازه پانګه ورتلل، دا ټول ددی بریالی پروګرام ګټی وی .

همدارنګه د پکتیکا ولایت مرکز د شرنی ښار چی په ډیر ښه ډول د ودانی او سمسورتیا په لور روان دی، چی هم د خلکو د کورو ، دوکانو او روزګار لپاره زمینه مساعده شوی ا حکومت ته له دی لاری ډیری پیسی لاس ته ورغلی دی . لیکوال په خپله ولسوالی کی هم د یوه دغسی پلان شاهد دی چی د ولسوالی د با تدبیرو چارواکو دزیار په نتیجه کی یو سپیره ډاګ په ودان او سمسور بازار بدل شو، تر اوسه به ایله دری کاله وتلی وی چی هلته یو زیات شمیر دوکانونه، سرایونه، د ولسوالی ودانی، روغتون، جومات ، مدرسی او د اړتیا وړ نوری اداری په بشپړ ډول سر ته ورسیدی نو که د هیواد په نورو ولسوالیو او ولایاتو کی هم چارواکی د خلکو دا ډول اړتیاوی د غور او څیړنی لاندی ونیسی، په دی کی شک نشته چی ډیر بریالی اقتصادی پروګرامونه به جوړ او دخپلو جګړه ځپلو خلکو ښه مرسته به وکړی شی د لوی خدای «ج» په فضل سره زمونږ هیواد د اقتصادی ښیرازی او پرمختګ ډیر ښه امکانات لری او که د اخلاص او جدیت نه کار واخیستل شی تر لاس لاندی موجودو وسایلو سره به ډیر ژر له هیواد څخه د فقر او نیستی تغر ټول شی.

منځګړیتوب

په کامپ ډیوید کی د فلسطین د لانجمنی قضیی د آواری په غرض د ښاغلی عرفات او ایهود بارک تر منځ د بل کلنتن د تیرو پنځو اونیو منډو را منډو او جرګه مارتوب دا کوچ را واېستل چی د فلسطین پرنورو پرامنه سیمو کی هم د جګړی لمبی بلی او له سلو تنو نه زیات پکی بیوزله فلسطینیان په اورستي شول.

که څه هم د لانجی د دواړو لوریو،عرفات او بارک خو لا مخکی تر مخکی دا ښه زړه ته لویدلی ؤ چی د هغوی تر منځ به د کلنتن جرګه ماری کومی وړی شړی نکړی خو هغه د چا په دود بیا هم ښنده په خپل وس پړ دی او آن په دی خبره خپله د ښاغلی جرګه مار هڅونه هم لا ښه زبیږه و او تر خپلی جرګه ماری لا د مخه یی ترکی چارواکو ته هم لا یو فرمایش صادر کړی ؤ چی هغوی دی هم د کامپ ډیوید د جرګی تر څنګ په فلسطین کی د عربو او اسرائیلو تر منځ د روغی جوړی په هکله د منځګړیتوب ماموریت په غاړه واخلی ، کلنتن د فلسطین له نورو ګاونډیانو څخه ځکه ترُکي چارواکی انتخاب کړل چی یو وخت د عثمانی خلافت په مهال همدا اوسنی اشغالی فلسطین د ترکوحاکمانو تر، لاندی وو . څه وخت د ترکیبی حاکمن حاکمانتی حاکمان، د هغوی حکمرانی یوازی په ترکیه پوری نه وه محصوره بلکی د اسلامی نړی ډیری نوری سیمی هم د هغوی تر اسلامی زعامت لاندی د آرامی شپی سبا کولی .

په هر صورت د ترکیبی اوسنیو چارواکو هم د کلنتن فرمایش ته لبیک ووایه او سمدستی یی د نوموړی لانجی د بیخی اوارولو په هکله د منځګړیتوب په یوه پلان کار پیل کړ. ترکی اوسنی چارواکی خو ښه د کلنتن په ګوډ ناست خلک دی نو خبری او منځګړیتوب به یی هم هرو مرو د هغه ښاغلی د شاهانه مزاج برابروی.

د ترکیبی د بهرنیو چاروزیر ښاغلی اسمٰعیل جم د منځګړیتوب پلان ترتیب او په یوه خاص دود او دستور سره یی په فلسطین کی د فلسطین په نیمه چارواکی عرفات او اسرائیلی غاصب حاکم بارک باندی عرض کړ .

د منځګړیتوب په دغه سنجول شوی پلان کی په نورو تکویر سپیره دغه توری په هو

چې نه مري لا به واوري!

عبدالرحیم «ثاقب»

بارزو او پخو تورو کښل شوی وو .

۱- د بیت المقدس لرغونی ښار دي د دریو آسمانی ادیانو (اسلام ، مسیحیت او یهودیت) د پلویانو په منځ خلاص وی .

۲- د اقصیٰ له سپیڅلی مسجد نه دی یو لرغونی موزیم جوړ کړای شی چی له مذهبی سپیڅلتوب او تقدس پرته د نړی د ټولو مذاهبو پلویان فقط د هغه له تاریخی لرغونتوب نه د ننداری خوند واخلی.

۳- د همدی لرغونی موزیم « نعوذ بالله» ساتنه او څارنه دی د ملګرو ملتونو موسسی ته وسپارل شی.

خدای سته د ترکی چارواکو دغه منځګړیتوب د وخت او زمان له شرایطو سره ځکه برابر منځګړیتوب دی چی نه ترکی چارواکی او نه هم د هغوی فرمایش دهنده کلنتن په یوه داسی څه باور لری چی نوم یی تقدس او سپیڅلتیا وی. پهر صورت زمانه ګرځی او حالات بدلون پیدا کوی له نن څخه نژدی یوه پیړی مخکي هم د ترکیبی له حاکمانو څخه د دی غوښتنه شوی چی د ملیونونو د ښارو په مقابل کی دی یوازی څو یهودی کورنیو ته فقط په فلسطین کی د میشته کیدلو حق ورکړای شی.

هوکی! یوازی د میشته کیدلو حق. نه د حکومت کولو او نه هم د غصبولو دغه وړاندیز د یهودی «هرتزل» لخوا حضرت سلطان عبدالحمید ته چي په هغه مهال د اسلامي خلافت په ګدي ناست وه په ډیر عجز او انکسار سره عرض شو خو هغه مهال بل شانتی مهال ؤ هغه مهال په نړی د مسلمانانو د حکومت چارواکی چلیدله هغه مهال ټولی اسلامی نړی یو متحد اسلامی زعامت درلود چی هیڅکله هم ددی جرئت نشوای کولای چی هغوی ته فرمایش ورکړی بلکی د هر امر د تعمیل په اړه په ډیر ادب ورځنی غوښتنه کیده له همدی امله حضرت سلطان عبدالحمید د یهودی هرتزل دغه وړاندیز په سخت غرورسره رد کړ او ورته وېی ویل : د فلسطین خاوره د اسلام د ډیرو قهرمانانو په سرو وینو ګټل شوی زه ځان ته ددی صلاحیت نه ورکوم چی هغه بیرته د ځو دینا رو په مقابل کی د یهودو تر ناولو قدمونو لاندی کړم.

ښایی د سلطان عبدالحمید دغه تاریخی خبری، امریکایی چارواکی کلنتن، د فلسطین د نیمه چارواکی یاسر عرفات له حافظی نه غلا کړی وی او نن د همدغو تاریخی خبرو په کسات کی د ترکیی اوسنیو حاکمانو ددغه شان منځګړیتوب فرمایش ورکړی وی.

تر یوی اندازی خو د بل کلنتن دغه فرمایښات ځکه پر ځاي دي چي په اسلامي نړي کي خو داسي څوک نشته چي د فرمایښونو توان په ځان کي ولري هغوی ټول یا د ځان ځانی په بلا اخته دي اویا هم د اقتدار په مزو کی داسی نشه دی چی نور یی په خیال کی هم د اقصی د مسجد په شان په سلګونو لانجی نه ورتیریږی.

نو هغه د چا په دود « له نه میږو ملک سویږو » میدان به خامخا کلنتن ته پاتی کیږی او هغه به بیا ځان ته دا صلاحیت ورکوی چی کله په کامپ ډیوید کی د یهودي مونیکا تر څنګ او کله په مصر کی د ام ګلثوم د وفادارو یارانو تر خوا د شرابو په نښه کی د مسجد اقصیٰ په برخلیک پریکړی کوی.

وا اسلاما! وا اسلاما! وا اسلاما!

ای محمد ګر قیامت می بر آری سر زخاک
سر بر آور وین قیامت در میان صابین

اخبار سپورتي داخلي

•سابقات تیم ملي بوکسنگ به پایان رسید

مسابقات جالب و دیدني بوکسنگ که چندي قبل براي گزینش بهترین بوکسران براي تیم ملي بوکس تحت نظر فدراسیون مربوطه به اساس پلان و جنتري کمیته ملي المپیک ا.ا.ا با اشتراک موسسات ورزشي و کلپ هاي آزاد شهر کابل و بوکسران نخبه در ستدیوم ورزشي کابل آغاز گردیده بود دیروز با نتایج قناعت بخش به پایان رسید .

رئیس فدراسیون تکواندوانتخاب گردید

رئیس فدراسیون تکواندوي کشور طي جلسه مشتمل بر تمام تکواندو کاران کشور در مقر کمیته ملي المپیک بروز دوشنبه ۲۵ میزان به اتفاق آرا انتخاب گردید.

فدراسیون تکواندوي کشور که از مدت زیادي به اثر عدم تشریك مساعي بعضي افراد قسماً فلج بود دو باره احیا و استاد میر زمان باور نماینده اکادمي بین المللي ۸ کوان جهاني به حیث رئیس فدراسیون تکواندوي افغانستان تعین گردید.

بهرني سپورتي خبرونه

دنړی د معیوبینو المپیک پیل شو

د نړی د معیوبینو المپیک د تیري چارشنبي په ورځ د استرالیا د سدني په ښار کی پیل شو دغه مسابقات د (پرالویس) په نامه ونومول شول . د نړیوال المپیک رئیس شاغلی خوان انتونی سماراج وویل : دغه مسابقات د نړی د محروم قشر یعنې معیوبینو سره د خواخوږی په خاطر پیل شوی په دغو مسابقاتو کی د نړی څه د پاسه ٤۰۰۰ معیوبو ورزشکارانو برخه اخیستی او په ۱۸ سپورتی څانگو کی به لوبی سره وکړي د یادونی وړ ده چی د لامبو فټبال او د معیوبینو د مخصوصو چوکیو ثابت مسابقات چی تکواندو او کاراته به یی په سر کی وی په دغه المپیک کی شامل دی.

د آسیا د فوټبال د اتلولي جام

د اسیا د فټبال د اتلولی لوبی د لبنان په مرکز کی پیل شوی په دغو لوبو کی جاپان ۸ د یوه په مقابل کی ازبکستان ته او سعودی عرب یو د صفر په مقابل کی کویت ته ماته ورکړی ده د دغو سیالیو لړی دوام لري.

د (دایدوجوکو) کاراتی اسیایی مسابقات د ازبکستان په پلازمینه تاشکند کی د نوامبر په ۱۵ مه نیټه پیل کیږی . دغو مسابقاتو ته د آسیایی هیوادونو تکړه کاراته کاران ورپلل شوی چی د نړیوالو مسابقاتو لپاره به په امتیازي ډول له یو بل سره سیالی وکړي.

ویژگي هاي قهرمانان (جوانمردي وایثار)

استاد حیدري آمرکانون ورزشي تکواندوي جیدوکوان

صفت پسندیده (فتوت) از جمله صفات ارزشمند اخلاق است که همواره زینت بخش شخصیت والاي قهرمانان و ورزشکاران واقعي بوده است . در معني (فتوت) گفته اند شخصي متصف بدین ویژگیهاست که همواره منافع مردم را بر منافع خود ترجیح داده و سعي دارد دیگري را بر خود برتري دهد، لغزش هاي دوستان را نادیده انگاشته و با همگان به انصاف رفتار نماید همچنان اهل حقیقت صفت فتوت را به شخصي اعطا میکند که خلق از او در آسایش باشد.

در باره ویژگي هاي جوانمرد گفته شده است : چنین شخصي باید از خود گذشتگي داشته باشد و بتواند دیو نفس را به بند کشیده و بر آن لجام زند بهترین و جامع ترین تعریف که در این زمینه ارائه شده است مربوط به جوانمرد ترین و کامل ترین انسان تاریخ یعني حضرت علي «رض» است که شش ویژگي را براي جوانمرد نام برده است :

تواضع در دولت، صبر درخدمت، سخاوت بي منت، عفو درقدرت، نصیحت در خلوت و وفا به عهد .

حضرت علي «رض» براي هر مرد یکه به عدالت ، برادري ، محبت،ایثار ، جوانمردي و انسانیت انسان معترف باشد یك الگوي کامل گفته است.

بدیهي است ورزشکاران وقتي شکست ناپذیر مي شوند که جوانمردي را با آگاهي ، اخلاق، غیرت و غیره تلفیق کنند در اینصورت شکست ظاهري در میادین ورزشي نیز عین پیروزي است .

قدرت بدون تزکیه و ستیز با نفس نه تنها مفید و سازنده نیست بلکه خود مشکل آفرین و چه بسا فشار آفرین خواهد بود و به تعبیر سعدي علیه الرحمه « تیغي است در کف زنگي مست»

ورزشکاران باید جوانمردي ، ایثار ، گذشت ، مهرو محبت را پیشه کنند، کبر، نخوت غرور وخود خواهي دور از شان و منزلت ورزشکار است ورزشکاران تنها و تنها با پابندي به اصول اخلاقي و انساني میتوانند در قلوب مردم نفوذ کرده و محبوب آنان واقع گردند در افکار مردم ما تنها به کسي که قدرتمند است لقب پهلوان اطلاق نمي شود بلکه کساني در پهلواني و قهرمان بودن قرار میگیرند که قدرت به بند کشیدن نفس خود را داشته باشند و در جامعه جوانمردي اخلاق، اراده و فروتني را پیشه کنند.

ما از تمام امتیازات فدراسیون محروم هستیم

مسؤول کلپ تکواندوي باختر

شریعت : خوانندگان گرامي! خبرنگار ما مصاحبه یي را با محترم دیپلوم انجنیر نعمت الله روشان مسؤل کلپ تکواندوي باختر انجام داده است که توجه شما را بدان معطوف میداریم.

در آغاز محترم روشان چنین گفتند : اینجانب تمرینات تکواندو را براي بار نخست در کلپ مرکزي باختر تحت نظر استاد عبدالبصیر غني زاده از همراهان استاد همایون که از جمله شاگردان استاد بزرگ محمد اکبر حیدري میباشد آغاز نمودم. فعلاً دارنده کمر بند سیاه دان ۳ و مسؤول کلپ ورزشي تکواندوي باختر واقع مکروریان دوم که در چوکات اتحادیه ورزشي ضرب مجاهد فعالیت دارد میباشم.

موصوف به جواب این پرسش که تکواندو چگونه ورزش است چنین معلومات ارائه داشتند : تکواندو یکي از ورزش هاي مدرن جهاني میباشد بنا بر تصاویر بدست آمده از معابد واقع کوریاي جنوبي قدامت ۲۰۰۰ ساله دارد. تکواندو فعلاً بمشابه یکي از ورزش هاي مدرن بین المللي در المپیك سدني قبول شده است. اساساً به هشت سبك مختلف کار میشود و این هشت سبك توسط فدراسیون جهاني تکواندو اداره میگردد.

نامبرده به جواب این پرسش که از طرف فدراسیون تکواندو با شما چي گونه همکاري ها صورت گرفته چنین توضیحات ارائه داشتند : از طرف فدراسیون تکواندو به استثنا دوران ریاست استاد محمد یوسف دلدار بنا بر عدم انسجام و خود کفا بودن و نبودن همبستگي کامل در فدراسیون هیچگونه کمك و همکاري با ما صورت نگرفته است به همین علت است که به طور مستقل فعالیت نموده و مصروف تمرینات و خدمت به قشر جوان کشور میباشیم.

به حیث یك مربي تکواندو براي تکواندو کاران مملکت جهت پیشبرد هر چه خوبتر مسایل ورزشي تان چي پیام دارید ؟

من از تمام استادان تکواندو خواهش مینمایم تا از یکه تازي هاي ي مورد، غرور و خود خواهي بیجا ماجراجویي و عدم احترام به یکدیگر ابا ورزیده و حقوق همه ورزشکاران را محترم بشمارند.

محمد اسحق سنگري

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار   ۳۱

داصحابو د ژوند پلوشی

عکرمه بن ابی جهل

هغه وخت چی د رحمت پیغمبر د هدایت او حق بلنه په ډاګه کړه، عکرمه د حسب له حیثه د قریشو خورا عزتمن تن و او په هغو کی د خورا زیات مال او د خورا ښه نسب خاوند و .

څنګه چی د هغه همزولو لکه سعد بن ابی وقاص، مصعب بن عمیر او د دوی په شان د مکی د لوړو کورنیو زلمو اسلام منلی و هغه ته هم که پلار یی نه وای، مناسب وه چی اسلام یی منلی وای.

ته څه فکر کوی چی د هغه پلار څوک و ؟ د هغه پلار د مکی لوی ظالم، د شرک لومړی مشر او د سختو عذابونو خاوند و چی الله تعالی د هغه په زوروری سره د مومنانو ایمان د ازمیښت سره مخامخ کړی او هغو له ثبات او استقامت څخه کار اخستی دی، او الله تعالی د دغه زورور په شر سره د باور کوونکو ریښتینولی د ازمیښت لاندی نیولی او هغوی له ازمیښت څخه ریښتینی وتلی دی.

هغه زورور، ابو جهل دی او بس. دا د عکرمه پلار دی، او عکرمه بن ابی جهل مخزومی د قریشو د څو شمیرلو شویو مشرانو او له ښکاره و قهرمانانو سپرو څخه یو تن دی.

عکرمه بن ابی جهل د خپل پلار د مشری له امله خپل ځان مجبور وګاڼه څو د محمد «ص» سره دښمنی وکړی، هماغه و چی ده د پیغمبر سره سخته دښمنی پیل کړه او د هغه ملګرو ته یی زیات ضرر ورسول او په اسلام او مسلمانانو باندی یی سخت تکلیفونه راوستل تر دی چی د پلار د ډیری خوښی سبب وګرځید.

کله چی د عکرمه پلار د بدر په ورځ د شرک د جنګ مشری په غاړه واخستله او په لات او عزی باندی یی سوګند یاد کړ چی دی به مکی ته تر هغه نه ستنیږی څو چی محمد «ص» ته ماتی ورنکړی. هماغه و چی ده تر دریو ورځو په بدر کی اوښان حلالول او ښځو ورته چمبی وهلی په دغه وخت کی عکرمه د ده بازو و چی ورباندی یی تکیه کوله، او لاس یی ورکړی ورباندی یی نیول کول، مګر لات او عزی دده غږ ته لبیک ونه وایه څکه د دواړو د لاسه څه نه کیدل هماغه و چی په بدر کی مړ پریوت او عکرمه زوی یی کتل چی د مسلمانانو غشی دده په وینو رنګیږی ، او پخپلو غوږو یی اوریدل چی دی له خولی څخه د فریاد وروستی غږونه باسی. عکرمه مکی ته ستون شو، او د قریشو سردار یی په بدر کی (مړ) پریښود او د ماتي له کبله یی ونکړای شول چی هغه په مکه کی خښ کړی بلکی دی ته اړ شو چی د میدان څخه تیښته وکړی او د هغه مړی مسلمانانو ته پریږدی . مسلمانانو د هغه او د مشرکانو د نورو وژل شویو کسانو مړی په قلیب کی واچول، او ورباندی یی شګی واړولی.

له هماغی ورځی د اسلام په باب د عکرمه بن ابی جهل حال په بله شو، او دا په دی ډول چی په اول کی یی د پلار د ننګ له امله د اسلام سره دښمنی کوله ،او نن ورځ د هغه د کسات اخستونکی په حیث وګرځید.

عکرمه د هغو کسانو په ډله کی چی د هغوی پلرونه په بدر کی وژل شوی و د محمد «ص» په مقابل کی د مشرکانو په زړونو کی د دښمنی اور ونه بلول ،او هم یی د هغو قریشو په زړونو کی چی د هغوی وژل شوی کسان یی کسات ته پاتی و د کسات اخستلو سکروټی یې تازه کولی تر دی چی د احد پیښه رامنځ ته شوه . عکرمه بن ابی جهل احد ته ووت، او د هغه سره ښځه یی (ام حکیم) هم د هغو ښځو په ډله کی چی د هغوی خپلوان په بدر کی وژل شوی و ، ووتله او د هغوی سره یی د قریشو د جنګیانو د تودولو په غرض او دا چی څوک د جنګ له میدان څخه تیښته ونکړی ، چمبی وهلی.

د قریشو د لښکر په ښی خوا خالد بن ولید او په کینه خوا یی عکرمه بن ابی جهل وټاکل شول، دغو دواړو مشرکو قهرمانانو د احد په ورځ ډیره میرانه وښودله تر دی چی محمد «ص» او د هغه پر ملګرو یی د قریشو پله درنه کړله، او د مشرکانو لپاره یی لویه بری تر لاسه کړ تر دی چی ابو سفیان داسی وویل : دغه ورځ د بدر د ورځی په مقابل کی ده .

همدا راز د خندق په ورځ کله چی مشرکان تر ډیرو ورځو له مدینی څخه را تاوو په پای کی د عکرمه بن ابی جهل حوصله تنګه شوه او د خندق د یوه تنګ ځای په لټه کی شو او بیا یی چی تنګ ځای پیدا کړ نور څخه یی خپل آس بلی خوا ته تیر کړ او ورپسی یو څو تنه قریشی جنګیان هم تیر شول، او خپل ځانونه یی د هلاکت د سختیو سره مخامخ کړل یو له هغو څخه عمرو بن عبدو دالعامری و چی دی د دغه ډول زورورتیا قربانی شو مګر عکرمه په تیښتی سره خپل ځان بچ کړ .

پاتي لري

د افغانستان د اسلامی امارت د المپیک د ملی کمیتی عمومی رئیس محترم الحاج مولوی قلم الدین له «شریعت» سره په مرکه کی :

ورزش انسانان د مخدره موادو له استعمال او نورو غیر شرعی او غیر اخلاقی اعمالونه ژغوری

مونږ په پام کی لرو چی په اوونی کی دوه ورځی ورزشکارانو ته دینی او عقیدوی لارښوونی وکړو

دا بیځایه آوازی، انګازی او پروپاګنډی دی زمونږ اراده دا ده چی سپورت ته وده او پراختیا ورکړو

شریعت : محترمو لوستونکو او د ورزش قدرمنو مینه والو ! په دی وروستیو وختو کی داسی آوازی او، بدل کیږی چی ګواکی رزمی سپورتونه، په ځانګړی توګه د تکواندو کاراتی او کونګ فو ورزشونه بندیږی د دی خبرو د روښانیدو او د رزمی ورزشکارانو د بی ځایه تشویش او همدا راز په هیواد کی د سپورت او بدنی روزنی د څرنګوالی په هکله زمونږ خبریال د افغانستان د اسلامی امارت د المپیک د ملی کمیتی له عمومی رئیس محترم الحاج مولوی قلم الدین سره مرکه کړی چی ستاسی پام ورته راګرځوو .

پوښتنه : د سپورت او بدنی روزنی د لا ښه سمون او د ورزشکارانو د سالمی روزنی په اړوند تاسی څه لازم تدابیر په لاس کی لری ؟

ځواب : څرنګه چی بدنی روزنه د هر انسان او په ځانګړی توګه د ځوانانو لپاره یو حتمی ضرورت دی، همدا راز دغه ضرورت انسان له ناوړه کارونو، د مخدره موادو له استعمال او داسی نورو غیر اخلاقی او غیر شرعی کارونو څخه ژغوری نو اسلامی امارت د بدنی روزنی او سپورت لوی ریاست او د المپیک ملی کمیته په اوس وخت کی دغه لاندی تدابیر په لاس کی لری.

په ټولو ولایاتو او ولسوالیو کی د سپورت او بدنی روزنی د افتخاری ریاستونو جوړول چی مخکی په تشکیل کی نه وو تر څو سپورت په کلبو او باندو کی په پراخه اندازه وده وکړی.

هغه تنکی ځوانان چی عمر یی د سپورت د اجرا لپاره برابروی د هغوی جلب، جذب او تشویق، هغوی باید په المپیک کی داخل شی او په فدراسیونونو کی رسمیت پیدا کړی هغوی ته باید ورزیده ترینران وټاکل شی، په کلبهو، بانډو، مدرسو، او په لویو ښارونو کی ورزشی مراکز ورته جوړ شی.

تر څو زمونږ د هیواد سپورت د خلکو په منځ کی وده وکړي.

هر څومره چی ورزش په هیواد کی وده کوی په هغی پیمانه باید زمونږ ورزشکارانو ته دینی او عقیدتی درسونه ورکړل شی تر څو په شریعت ښکلی شی مونږ په پام کی لرو چی په هفته کی دوه ورځی هغوی ته دینی او عقیدتی درسونه ورکړو .

پوښتنه : اوس - اوس، رزمی ورزشونه په نړی او په ځانګړی ډول زمونږ په هیواد کی د پرمختګ په حال کی دی. داسی اوازی اوریدل کیږی چی دغه سپورتونه لکه بوکس، تکواندو ، کونګ فو او د کاراتی ورزش بندیږی په داسی حال کی چی دغه ورزشونه زمونږ د هیواد ۷۰ فیصده سپورت تشکیلوی تاسی په دی اړوند څه نظر لری ؟

ځواب : دا آوازی ، انګازی او بیځایه تبلیغات دی زمونږ اراده دا ده چی وده ورکړو او قوی یی کړو په کونګ فو ، بوکس، کاراتی، تکواندو او داسی نورو رزمی ورزش ' ر دی هغه حرکات چی حد د شریعت او اسلامی کرامت دی هغه به اصلاح کیږي د بندیدو خبره یی بیخی بیځایه او نا ممکنه ده هیڅکله به نه بندیږی.

پوښتنه : د ورزش نقش او اهمیت د اسلام په مبین دین کی څومره دی ؟

ځواب : د اسلام له نظره دا یوه ضروری پدیده او خبره ده خو په هغه صورت کی چی زمونږ ټول ورزشکاران په اسلامي شریعت آراسته وی او د سپورت تر څنګ له عقیدوی او شرعی پلوه هم ټینګ وی دا په اسلام کی ستر اهمیت لری ددغی مبارکی آیی په اساس (و اعدولهم ما ...

نو مونږ اراده لرو چی ورزش ته په زیاته پیمانه وده ورکړو مونږ په سپورتی ډګر کی عقیدوی او شرعی چارو ته زیاته پاملرنه لرو .

تر څو زمونږ ځوانان د ملی واکمنی ، استقلال او آزادی او د خپل دین او ناموس د ساتلو په

٤ مخ

ورزش انسانان د مخدره موادو ...

خاطر جهاد ته آماده وي.

پوښتنه: په نړیوال ډګر کي د بین المللي المپیک سره د اړیکو په هکله څه پلان لري؟

ځواب: ورزش په نړی کي د سیاست په ډګر کي هیڅ نشته دا چي نړیوالو د افغانستان قهرمانو ورزشکارانو ته د سدني د المپیک او یا په اسیایي مسابقو کي د ګډون بلنه ورنکړه دا زموږ د ملت او په ځانګړي توګه د افغانستان له اسلامي امارت سره ستر خیانت او ستره جفا ده.

اوس چي د خدای په فضل د اسلامي امارت واکمني ورځ تر ورځي پراختیا او ټینګښت مومي انشا، الله نړیوال به ډیر ژر اسلامي امارت په رسمیت وپیژني. موږ زیات کوښښ کوو چي په بین المللي سطحه د سپورت په ډګر کي ځان شریک کړو ځکه زموږ ورزشکاران دا قابلیت لري چي په جهاني سطحه لوبي وکړي.

پوښتنه: د هیواد ورزشکارانو ته څه پیام لري؟

ځواب: د زړه له کومي مي ورزشکاران خوښ دي او د دوي مشکلاتو او پرابلمونو ته مي تل پام دی زه به هغه وخت ډیر خوشحاله شم چي په سفر او په حضر کي، په هیواد کي یا په بهر کي زموږ ورزشکاران په دینې باندي آراسته او مبین وي زما د زړه ارمان به هغه وخت پوره شي چي د نړي په هر ګوټ کي زموږ ورزشکاران د لمانځه په وخت کي خپل سپورت پریږدي او دغه ستره فریضه په ډیره مینه او اخلاص ادا کړي دا به د اسلام له مقدس دین سره ستره همکاري او ستر کمک وي.

له ازبکستان، ایران...

شیبو کي د اسلام کلا بندر د افغانستان د خلکو په مخ پرانیست.

چین هم په سیمه او نړي کي د یو قدرت په توګه نه غواړي له افغانستان سره خرابي اړیکي ولري. د ترکمنستان له هیواد سره زموږ مناسبات ښه او د پیاوړتیا په حال کي دي او د ازبکستان ایران او ترکمنستان له هیوادونو سره په پولو کي هیڅ راز ستونزه نلرو. د حیرتانو د بندر د بیا پرانستلو په باب د ازبکستان د حکومت علاقمندي بوه داسي مساله ده چي د افغانستان او ازبکستان د سوداګري په ګټه ده دا د ازبکستان لپاره یو مهم تجارتي بندر او پروژه ده د ګاونډیو هیوادونو لخوا دغه شان مثبت حرکتونه ددي واقعیت او حقیقت څرګندوي دي چي ګاونډي او د سیمي هیوادونه د افغانستان له اسلامي امارت سره د تجارتي او اقتصادي اړیکو د ټینګښت اړیکو د ټینګښت غوښتنه کوي او د تجارتي او اقتصادي اړیکو بیا ټینګښت په سیمه کي د سولي او ثبات په ګټه دي اسلامي امارت غواړي له ګاونډیو هیوادونو سره په سوله او امنیت کي ژوند وکړي.

محترم زاهد په نیویارک کي د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له معین ښاغلی کارل اندرفرت او د دغه وزارت د تروریزم د ځانګړي له مسؤل ښاغلی مایکل شیهان او په امریکا کي له اوسیدونکو افغانانو سره د وروستیو خبرو بهیر ګټور وباله او زیاته یي کړه: په افغانستان کي د واحد مشرتابه او اداري په شتـه والي سره دي د نړي هیوادونه او د ملګرو ملتو سازمان د افغانستان په مسالو کي بیطرفانه قضاوت وکړي. د افغانستان اسلامي امارت تل د خبرو او مفاهمي لاره غوره کړیده او له مخالفینو سره یي په تولو لیدنو کتنو او خبرو اترو کي په

په مزار شریف ...

غونډه کي چي د شمال زون د تنظیمیه رئیس او د بلخ د والي محترم ملا نور الله نوري او د کورنیو چارو وزارت د داري معین محترم مولوي نور جلال جلالي په ګډون جوړي شوي د کورنیو چارو وزارت د اړوندو ارګانونو نافذ شوي قوانین د عالمانو قانون پوهانو او د عدلیي او کورنیو چارو د وزارتونو د مسلکي غړو لخوا ماده په ماده بیان شول او په دي برخه کي مسلکي خبري اتري وشوي.

دغه سیمینار چي په هغه کي د شمال زون د اړوندو ولایتونو والیان، ولسوالان، د امنیتي ارګانونو مسولین اداري او نورو مسولین برخه لري نن هم دوام لري.

د یوګوسلاویا ...

واسلاو کیشتونسا دغه راز بوسنیا هرزي ګوینا ته د سفر په ترڅ کي یو داسي موافقه لیک اعلام کړ چي د هغه له مخي د یوګوسلاویا فدرالي جمهوریت د لومړي ځل لپاره د دواړو هیوادونو ترمنځ د اړیکو د تامینولو لپاره تصمیم نیسي. بوسنیا هرزي ګوینا د یوګوسلاویا د فدراسیون له ټوټي ټوټي کیدو مخکي د دغه فدراسیون یوه برخه وه.

په پاکستان کي ...

پرون شپه د ملتان نه پنډي ته تلونکي تولوي بس د مخالف اړخ بو بل بس سره وجنګیده چي په نتیجه کي یي زیات شمیر کسان مړه او ژوبل شول. د ژوبلو کسانو حالت خطرناک ګڼل شوي او زیاتره یي د پیژند ګلوي هم نه و. د پاکستان ولس مشر هم په دي پیښه خپله ژوره خواشیني څرګنده کړي او مړو کسانو ته یي مغفرت دعا کړي ده.

شوراي عالي ...

موضوعات و مسایل قضایي کشور صحبت همه جانبه نمودند که در بخشي از سخنان شان گفتند: قضات محاکم باید با مراجعین و اصحاب دعاوي از روش و اخلاق نیکي که شایسته و سزاوار یك قاضي و خادم شرع است کار گرفته و از کار هائیکه در آن اشتباه و تهمت باشد اجتناب ورزند. احیاناً اگر کدام قاضي کاري را انجام داده باشد که در حقیقت ان کار درست و بر جا بوده، مگر باز هم در اذهان مردم در رابطه به آن کار اشتباهي موجود باشد، باید قاضي در اظهارات و بیانات خویش حقایق را روشن ساخته و اشتباه را ازاله نماید، و اعتماد مردم باید بر قضات و محاکم طوري بر قرار و استوار باشد که حین رجعت موضوعات شان به محاکم اظهار خوشي نموده و روحاً آرام گردند. حتي که مرتکبین جرایم خود بخود به محاکم حاضر گردیده و خواستار عملي شدن احکام الهي بالاي خویش باشند.

محترم قاضي القضات افزودند: ازینکه ملت مسلمان افغانستان مصائب زیاد و رنجهاي بي شمار را دیده باید در دور حاضر بالاي جراحات شان پتي مرهم گذاشته شده و مایوس ساخته نشوند، در محاکم باید موضوعات مردم با کمال دقت و عدالت بطور عاجل حل و فصل گردد و بعد از قطعیت فیصله هاي محاکم باید ارګانهاي اجرائیوي آن را بطور فوري تطبیق و عملي نمایند، بسا اوقات یك موضوع در محاکم فیصله گردیده و قطعیت را نیز کسب نموده ولي از تطبیق باز میماند تنها بر فیصله هاي محاکم که بر روي اوراق صورت میگیرد بدون تطبیق و عملي نمودن آن مشکلات مردم رفع نمیشود.

محترم قاضي القضات علاوه نمودند: ستره محکمه همواره کوشیده تا کار را به اهل کار بسپارد، و بدین منظور علمائیکه جدیداً در قضا منسلك و مقرر میگردند از آنها در ستره محکمه امتحان گرفته میشود و اگر هر قدر یك شخص شهادت نامه عالي و سند معتبر داشته باشد باز هم بخاطر مزید اطمینان به امتحان محول میشود که بعد از تثبیت اهلیت و قابلیت آن به مقام امارت **پیشنهاد میگردد و حینکه به قضا توظیف میگردد برایش شکلیات قضایي تعلیم و تفهیم میشود و کتب، اصول و قوانین قضایي نیز به دسترس او گذاشته میشود و در ضمن آن بخاطر اینکه وظیفه قضا را با کمال صداقت، امانت و دیانت انجام داده باشد از او تعهد هم گرفته میشود.**

۱۹۰۰ کوګرام ...

یك موتر مینی بس بطور ماهرانه جابجا شده بوّد توسط موظفین پوسته تلاشي بوغلاني آن ولایت کشف و بدست آمد، چرس مذکور قبل از ظهر دیروز در محضر عام در منطقه دو سرکه پلخمري در حالیکه محترم ملا عبدالسلام سرپرست قوماندانی امنیه هیأت رهبري آن قوماندانی طلباي کرام و اهالي شهر پلخمري حاضر بودند حریق و از بین برده شد.

یك منبع مسوول قوماندانی امنیه ولایت بغلان گفت: عاملین قضیه نیز توسط موظفین امنیتي دستګیر گردیده و قضیه تحت تحقیق و بررسي قرار دارد منبع علاوه کرد موظفین امنیتي همیشه براي کشف و دستګیري عاملین منکرات بیدار و آماده میباشند.

د غور ولایت ...

دغه غونډه چي د غور د والي محترم مولوي عبدالرحمن په مشري او د اکسیفام ای سی آر سی، دبلیو اف پی، سی اچ ای موسسو د چارواکو په ګډون جوړه شوه لومړي د آی سی ار سی کمیټي مسول او د دبلیو اف پی موسسي مسول د خپلو فعالیتونو رپوټونه وړاندي کړل او وروسته د دغه ولایت د تیوري تولګ او د پسبند د ولسوالیو د خلکو د پیشنهاد د نو په باره کي چي د رواني کال لپاره د اهله زیات زیانمن شویدي خبري اتري وشوي او وپتیله یره چي د دغو مستحقو خلکو مظلومانه غږ نړیوالو خیریه موسسو ته ورسول شي چي په دي برخه کي پاملرنه وکړي.

یو مربوط خبرځای ووېل که چیري په خپل وخت بشري مرستي دغو سیمو ته ونه رسیږي د ژمي په رارسیدو سره په دغو سیمو کي د یوه بوه انساني ناورین د رامنځته کیدو امکان شته.

داروپایي ټولني ...

د فرانسي جمهور رئیس ژاک شیراک چي هیواد یي همدا اوس د اروپا د ټولني دوهي مشرتوب په غاړه لري د اروپا د ټولني د هیأت مشري هم کوي.

دغه راز په دغو خبرو کي د اروپا د ټولني رئیس رومانو پیرودي د بهرني او امنیتي سیاست لپاره د اروپا د ټولني ځانګړي استازي هاویر سولانا او د اروپا د ټولني تجارتي کمشنر هم ګډون لري.

د دغو سرو سترو مشري مسالي د نړیوالي سوداګري په سازمان کي د چین غړیتوب د غیر د نوني سمه جرت په خلاف مبارزه د بشر حقوق او د اروپا د ټولني او چین ترمنځ همکاري ده.

سنګ تهداب ...

یافته بود سخنرانان در رابطه به مشي تعلیمي و فرهنګي امارت اسلامي در راستاي اعمار مدارس در کشور صحبت نموده و ایجاد مدرسه امام غزالي «رح» را در منطقه سر دره ولسوالي سیاګرد یك ګام ارزنده در جهت آموزش اولاد وطن خواندند.

این مدرسه که در ساحه یك جریب زمین اعمار میګردد زمین ان توسط محترم قوماندان ملا نیازګل ملك عوض ګل و محترم ثنا ګل مساعدت گردیده و همچنان مبلغ ۲۰ ملیون افغاني جهت اعمار مدرسه متذکره از سوي محترم ملا امین الله اخند مسؤل عمومي ولسوالي غوربند همکاري گردیده است.

با استقرار ا.ا.ا توجهات جدي و قابل ملاحظه یي در جهت اعمار و ساختمان مدارس در کشور صورت ګرفته که در راه آموزش سالم اولاد وطن از مؤثریت و اهمیت ویژه یي برخوردار میباشد.

امریکا د ایران ...

قربانیانو ته د غرامت په توګه ورکوي.

د واشنګټن پست ورځپاڼي د لیکني له مخي د کلنټن دولت او د هغه هیواد کنګري په منځني ختیځ کي د په اصطلاح تروریستي پیښو له امله د زیانمن شویو امریکائیانو کورنیو ته د غرامت له ورکولو سره موافقه کړیده.

د امریکا د متحده ایالاتو مقاماتو ویلي دي په امریکا کي د ایران له څلور سوه ملیونو څخه زیاتي ضبط شوي شتمني څخه به د تروریستي فعالیتونو د قربانیانو لپاره د غرامت له ورکولو سره موافقه کړي ده. دامریکا د متحده ایالاتو مقاماتو ویلي دي په امریکا کي د ایران له ٤۰۰ ملیونوڅخه زیاتي ضبط شوي شتمني څخه به د تروریستي فعالیتونو د قربانیانو لپاره د غرامت ورکولو په توګه استفاده وشي.

واشنګټن پست خبر ورکړیدی چي د امریکا د متحده ایالاتو دولت به هغو کورنیو ته چي غړي یي په منځني ختیځ کي د تروریستي بریدونو له امله له منځه تللي او یا ورته زیان رسیدلي دي دوه سوه پنځوس ملیونه ډالره غرامت ورکړي.

دغو کورنیو د امریکا محکمو ته د دغو تروریستي بریدونو مسول ایران سودلي **دی او د امریکا محکمو هم د هغوی په ګټه رایي ورکړیدي.**

ملك	شپږ میاشتني	کلني
د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

قرار داد سرویس پست عاجل ...

عقد گردید.

محترم مولوي الله داد «بلخي» رئیس پست وزارت مخابرات ا.ا.ا پیرامون جزئیات این مطلب به خبرنګار ما اظهار داشت: علي الرغم تعزیرات اقتصادي شوراي امنیت ملل متحد که اثرات سؤ آن بویژه متوجه شبکه پستي در کشور بوده، ریاست پست در کوتاه مدت توانسته است در عرصه خدمات پستي پیشرفت هاي قابل ملاحظه کسب نماید، البته قرار داد سرویس پست عاجل وزارت مخابرات با جانب قرار داد کننده (داکتر محمد هاشم «وهاج» مسوول شرکت خصوصي پست سریع باختر) حقیقتاً نشاندهنده اهتمام و کوشش ریاست پست غرض تامین سهولت هاي بیشتر خدمات پستي براي هموطنان ما مي باشد.

وي افزود: از سرګیري فعالیت سرویس پست عاجل در کشور به معني رکود و یا ... ن پست قرار ګرفتن فعالیت ... ریاست پست وزارت مخابرات نبوده، بلکه آغاز فعالیت این شبکه در حقیقت امر متمم کار و اهتمام ما خواهد بود، از همین جهت وزارت مخابرات موقعیت دفاتر باختر پست را در مرکز و ولایات کشور در داخل تعمیرات پستي وزارت مخابرات در بدل کرایه ماهوار تثبیت و عندالموقع به اختیار این شبکه قرار خواهد داد.

نامبرده علاوه داشت: طبق این موافقتنامه باختر پست تعهد نموده است که الي دهم ذوالعقده الحرام سال ۱٤۲۱ هـ ق در مراکز شش ولایت درجه اول شامل: کابل، کندهار، هرات، ننګرهار، بلخ و کندز دفاتر خویش را تأسیس و به انجام خدمات میپردازد؛ هکذا در مدت دو سال آینده دفاتر خویش را در تمامي ولایات کشور تأسیس مینماید.

از جانب دیګر باختر پست مکلف است از عواید ماهوار خدمات عاجل پستي خویش پانزده فیصد را به عنوان تکس به جانب وزارت مخابرات و قبل از تأسیس هر نمایندګي در ولایات درجه اول مبلغ هفت ملیون، ولایات درجه دوم شش ملیون، درجه سوم پنج ملیون و درجه چهارم سه ملیون افغاني براي یکمرتبه به عنوان اجرت حق الامتیاز بپردازد. مدت اعتبار این موافقتنامه شش سال در نظر ګرفته شده است.

مهربان

کار باز سازي عرصه هاي مسلکي و ...

پوهنتون لومالیندای امریکا پوهنتون متذکره با اعزام استادان متخصصین تکنیشن هاي طبي، اهداي وسایل، تجهیزات، کتب درسي و مواد لابراتواري پوهنځي هاي موسسه طب کابل را مساعدت مي نماید.

به اساس موافقتنامه متذکره طي دو سال اخیر بخش از لابراتوار هاي موسسه طب کابل احیا و شار بازي کتابخانه و مرکز کمپیوتر آن موسسه به شدت جریان دارد.

لابراتوار تجربوي پتالوژي که به کمك بلا عوض پوهنتون لومالیندا با سامان و لوازم عصري مجهز ګردیده و پرفیسور هیدل متخصص امریکایي پروژه هاي تحقیقاتي و کار هاي عملي را که جز پروګرام درسي محصلان طب کابل است انجام داده و علاوه از آن کتله هاي نمونه وي عملیات جراحي را که در شفاخانه هاي شهر کابل بخاطر تشخیص امراض توبرکلوز سرطان هاي جهاز هضمي را مورد تحلیل و تجزیه علمي قرار داده نتایج ازمایشات را جهت تطبیق پروسه هاي بعدي معالجوي به اختیار شفاخانه ها قرار میدهد.

همچنان بمصرف مالي پوهنتون لومالیندا پروژه ساختماني منازل رهایشي براي متخصصین امریکایي که جهت تدریس و تحقیقات علمي به کابل اعزام میګردند در ساحه وزیر اکبر خان مینه جریان داشته و در اوایل ماه ذوالحجة الحرام سال روان تکمیل و به بهره برداري سپرده خواهد شد.

محترم مولوي محمد مسلم حقاني معین وزارت تحصیلات عالي و مسلکي در حالیکه عده از مسوولین و استادان محترم طب کابل با ایشان همراه بودند ضمن باز دید از جریان تدریس در بعضي از صنوف درسي از جریان کار ساختماني کتابخانه و مرکز کمپیوتر و از لابراتوار تجربوي پتالوژي نیز بازدید بعمل آورده با اظهار قدرداني از همکاریهاي پوهنتون لومالیندا جهت تسریع امور مربوط به مسوولین مربوط هدایت داد تا با هیأت پوهنتون مذکور همکاري نمایند.

د تالقانو ښار ...

محترم ملا محمد میر د افغانستان د اسلامي امارت هدفونه چي د هري ورځي په تیریدو سره په هیواد کي د جګړي د بندولو او د دایمي سولي د تامینولو په لاره کي پراختیا مومي بیان کړل.

وروسته محترم دوست محمد خان خیر خواه، محترم حاجي عبدالهادي، محترم مدیر عثمان، محترم قوماندان غوث محمد، محترم قاضي عبدالله او محترم قاضي حسام الدین د تالقانو ښار د خلکو په نمایندګي په وار سره خبري وکړي او د افغانستان د اسلامي امارت د هغو هڅو او هاند له امله چي د تخار ولایت د خلکو د نیکمرغي او سوکالي په لاره کي یي کوي قدرداني وکړه او د اسلامي امارت د هدفونو د تحقق په لاره کي یي خپله هر راز همکاري څرګنده کړه.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press